د اُمت مسلمه د تربیّت مبارکه سلسله (۲)

# صفاء المنهج

روڼ منهج او صفاء کړنلاره
د أشخاصو له صفائی څخه مهمه ده

تألیف:

شیخ عبدالمجید عبدالماجد
(استاذ السیاسة الشرعیة و فقه الواقع)
اهتمام و ترتیب و مراجعه:
مفتی خالد شاه جهانګیروی
تخصّص (فقه اسلامی، حدیث نبوی ﷺ)
ماستر (سیاسیات)

نوټ: د دې کتاب ټول حقوق غیر محفوظ دي او هر مسلمان ته اجازه ده چې بغیر د څه تغیر او اضافې نه یې شائع کړي

بسم الله الرحمن الرحيم

صفاء المنهج

## روڼ منهج أو صفاء كړلاره ،

## د أشخاصو له صفائي څخه مهمه ده.

ان الحمد لله نحمده و نستعينه ، و نستغفره ، و نستهديه ـ و نعوذ با لله من شرور أنفسنا و من سيئات أعمالنا ، من يهده الله فلا مضل له ، و من يضلل فلا هادي له ، و نشهد أن لا اله الا الله وحده ، لا شريك له ، و نشهد أن محمدا عبده و رسوله......

الله تعالى فرمائي ـ اتبعوا ما أنزل اليكم من ربكم و لا تتبعوا من دونه أولياء قليلا ما تذكرون ـ

ابن كثيرؒ د دې په تفسير كې وائي :ـ د هغه أمي پيغمبر پسې روان شئ ، چې داسې كتاب ئې راوړيدى ـ چې د هغه ذات له طرفه نازل شويدى ـ كوم چې د هر څه پالونكى أو بادشاه دى ـ أو مه وځئ له هغه څه چې د الله رسول ﷺ ئې ارشاد فرمائيلي دي بل څه ته ، ځكه شئ به بيا داسې څوک چې د الله د حكم څخه د بل چا حكم ته تجاوز كوي ـ ډير كم خلق نصيحت قبلوي ـ بل ځائي كښې فرمائي ـ و ما

آکثر الناس و لو حرصت بمؤمنین ـ

معـانی ـ ډیر خلق مؤمنان نشی کیدائی ـ اګر که ته د هغـوی پـه ایـمـان تـه راوستلو کوښښ أو حرص وکړی ـ بیا فرمائی ـ

و ان تطع آکثر من فی الأرض یضلوك عن سبیل اللّٰه ـ

معـانی ـ دنیا کی که د ډیرو خلقو خبره منی ـ نو د الله له دین څخه به دی بیلاری کړی ـ

أو فرمائی ـ و ما یؤمن آکثرهم باللّٰه الا و هم مشرکون ـ

معـانـی ـ ایـمـان نـه لـری ـ ډیر خلق په الله مګر شرک کوی ـ

د دی آیـاتـونـو تـر لاندی ـ زه غوارم خپله مقاله کښی محتـرمـو ورونـو تـه پـه لـنډو ټکو کی شرحه وکړم ـ دا هغه آیاتـونه دی ـ چی حکم ئی تر قیامته ثابت أو د جنت أو جهنم فیـصله پری کیږی ـ أو دا مقاله هغه محترمو ته وړاندی کوم ـ کـوم چـی د جهـاد أو دعوت لپاره خپل ژوند بخی ، دی لپاره چی نصیحت أو فائده ترینه واخلی ـ

**<u>هغه کسان چې د دعوت سره تعلق لري په دري قسمه دي ـ</u>**

**أول** ـ هغه کسان دي ـ چې د دعوت أو جهاد په لار کښې ئې د هغه أصولو څخه سر غړونه کړي ـ کوم چې رسول الله ﷺ ایښې او بیان کړیدي ـ الله دې وکړي چې پو هه شي ـ أو بیرته صحیح منهج ته راوؤ ګرځي ـ

**دوهم** ـ هغه د دي مخکې ذکر شویو تابعدار أو فرمان بردار دي ـ چې بغیر له څه سوچ أو فکر و هغوی د خطاء پسې روان دي ـ ولې دا سوچ نکوي ـ چې دوی انسانان دي ـ خطاء کیږي ـ بايد دوی پو هه شي ـ چې ژوندي انسان باندي د ګمراه کیدلو أو خطاء کیدو احتمال شته ـ أو الله تعالی چې کوم منهج رالیږلی دي ـ هغې کې خطاء نشي راتلائی ـ هغه ثابت دي ـ لکه مخکښې آیاتونو کې ورته اشاره وشوه ـ أو کله چې هم د حق تابعدار أو د دغه منهج تابعدار کم وي ـ أو باطل پرست زيات وي ـ نو حق کې نقصان نشي راتلائی ـ أو باطل وچتیدائی نشي ـ بلکې د باطل پرستو زیادت أو د حق پرستو

کمي دا د الله تعالی طريقه ده ـ په خپل مخلوق کښې ـ

لـکه ابن کثيرؒ ورته اشاره کړيده ـ د سورت الرعد (۱۷) آيـت کښې چې الله فرمائي ـ فأما الزبد فيذهب جفاء و أما ما ينفع الناس فيمكث في الأرض ـ

معـانــي ـ د حـق مثـال د بـاران دی ـ چـې کلـه وشـي سيـلاب تـريـنـه جـوړ شي ـ هغه د أوبو أو زګونو ځخه مرکب وی ـ نـو زګـونـه بـې فـائـدی لاړ شي ـ أو أوبه د خلقو د فائدی لپاره زمکه کښې حصاري شي ـ

**دريم** ـ هـغـه کسـان دی ـ چـې الله تـعالی ورته هدايت کړی وی ـ أو پـه حـق ئـې مضبوط ودرولی وی ـ زړونه ئې ورته رڼرا کـړی وی ـ دا کسـان پـه هـدايـت أو الهی رڼرا پسې درومی ـ د الـله حمدونه صفتونه وائي ـ أو ترينه غواړی ـ چې په دين ئې کلک أو ثابت پاتې کړی ـ کوم چې ورته خپل پيغمبر پريښې أو فرمايلی ئې دی ـ (عليكم بسنتي) زما سنت کلک ونيسې ـ

<u>**نو هر چې أوله ډله ده** ـ</u>

دا هغه جرأت کونکی دی په منهج ـ کوم چی په فتنه أو فساد کی غورځیدلی دی ـ که دا بیا شیخان دی ـ یا عام خلق أو یا هم د تنظیمونو مشران وی ـ کوم چی طاغوتو ته ځانونه ذلیل أو خکته کوی ـ د هغوئی سره دوستی کوی ـ تردی چی د هغوی په شریعت حاکمیت أو واکداری أو خود ساخته قوانینو اقرار کوی ـ

أو بیا ئی یو بل ګام وړاندی أخیستی ـ دا هغوئی لپاره ئی په خپلو خلقو خبره منل أو طاعت کول لازمی کړیدی ـ په داسی کارونو هغوی بیا د دغه طاغوتیانو ستنی أو مشاورین جوړ شویدی ـ أو له مجاهدینو څخه ئی براء ت أو بیزاری ده ـ تردی چی په هره مورچه کی ورسره جنګیږی ـ لدی کبله دوی په جهاد أو مجاهدینو د هغوی د فوجونو أو درباری ملیانو څخه هم خطرناک تمام شویدی ـ

أو رسول الله ﷺ رښتیا ویلی دی ـ چی فرمائی :ـ کله چی یو انسان د جنتیانو عملونه کوی ـ تردی چی د ده أو جنت منځ کښی فقط مرګ پرده وی ـ خو تقدیر پری رامخکی شی ـ أو د مرګ په وخت کی د جهنم عملونه شروع

کړي ـ تردي چي خاتمه ئې هم په دغه شي ـ أو جهنم ته لاړ شي ـ

دغه کسان که څه معمولي علم ئې د بعضو سره شته ـ د هغوی پوهه مونږ له باطل څخه نشي راړولي ـ أو نه د هغوی فصیحه ژبې ، ساحرانه بیانونه ، باطل پرسته ملګرې ، د طاغوتیانو مرستې چې دوی سره ئې په مقابله د خدمتونو أو تبلیغاتو کې کوي ـ مونږ له حق څخه أړولي شي ـ

أو کله چې هم د عالم علم د قرآن أو سنت سره سمون نه خوري ـ نو د ټولو أهل حق علماؤ اجماع ده ـ سره د اختلاف د مذهبونو چې د ده علم أو پوهه به په دیوال ولي ـ أو ډیر داسې خلق چې د دغه نظام تابع شول ـ مونږ ته ډیر لوئې خلق ښکاریدل ـ خو مونږ چې ولیدل ـ هغوئې داسې راپریوتل لکه په خزان کې چې د ونو پاڼې راغورځي ـ شاعر څه خه وینا کړیده ـ

لو كان العلم من دون التقى شرف . لكان أشرف اهل الارض ابليس

معانی ـ که علم أو پوهه بغیر له تقوی څخه شرافت أو عزت وائي ـ نو ابلیس به د الله تعالی په ټول مخلوق شرف أو

عزت درلود ـ ولي علم د تقوى څخه پرته هيڅ أرزښت أو قيمت نه لري۔

**دوهم** ـ هغه ډله چي د بل چا پسي روان وي ـ سره له دې چي دوى د چا پسي اقتداء كوي ـ هغوى په خطاء أو نا سم منهج وي ـ أو له ډيرو شيانو جاهل أو ناخبر وي ـ لكه لاندې ئې ذكر كوؤ ـ

أ ـ هغه علمونه چي فرض عين دي ـ لكه كفر بالطاغوت ـ د الله تعالى څخه غير هر هغه متبوع أو مشر چي عبادت ئې كيږي ـ يا ئې په باطل پسي خلق روان وي پري كفر كول ـ أو د هغې سره دښمني أو كينه كول ـ أو د الله تعالى شرعه حاكمول ـ أو لدې سره چي څه لازم دي ـ لكه جهاد دعوت...... د حق پرستو سره محبت دوستي امداد أو د هغوى سره شريک جهاد كول ـ أو دعاء ورلره غوښتل ـ دا فرضي علمونه دي ـ أو دغه خلک پري نه پوهيږي ـ

ب ـ اتباع أو غاړه كيښودل ـ دا ضروري ده ـ چي د صحيح منهج پسي روان شي ـ أو هغه څه چي الله أو د الله رسول پري

أمـر كـړی دی ـ مـنـل أو غـاړه كيښودل ـ اګر كـه زړه دی نـه غـواړی ـ أو ستـا د خواهش هم خلاف وی ـ لكه پيغمبر ﷺ فرمائی ـ

لا يؤمن أحدكم حتى يكون هواه تبعا لما جئت به ـ

مـعانی ـ مؤمن نشی جوړيدائی ـ يو كس ستاسو نه ، تـر څـو چـی خپـل خـواهـش د هغه دين تابع نه كړی ـ په كوم چی زه راليږلی شوی يم ـ

بيا فرمائی ـ كل عمل ليس عليه أمرنا فهو رد ـ

مـعـانـی ـ هـر هـغـه كار چی زمونږ وينا أو أمر د هغی متعلق نه وی ـ هغه د منلو نه دی ـ أو ثواب پری نشته ـ

أو فـرمائی ـ تـركـت فيـكـم شيئين ما ان تمسكتم به لن تضلوا بعدی كتاب الله و سنتی ـ

مـعـانـی ـ مـا په تاسو كی داسی څه پريښی دی ـ چی كـه تـاسو پر منګلی ولګولی ، أو عمل مو پری وكړه ـ نو نه به ګـمـراه كيـږی ـ هـغــه د الله تـعالی كتاب أو د رسول الله ﷺ سنت دی ـ

پـه الف أو بـاء كښـی چـی څه ذكر شول ـ دا هغه دی ـ

چي الحافظ بن أحمدّ په (معارج القبول) کې د توحيد أو أساسي شيان په بيتونو کښي ذکر کړيدي ـ

بالعلم و اليقين و القبول ـ و الانقياد فادر ما أقول

و الصدق و الاخلاص و المحبة ـ وفقك الله لما أحبه

علم ، يقين ، قبول ، انقياد ، الصدق ، اخلاص ، محبه ، د دين أوه (٧) أساسي شيان دي ـ

له دي کبله دغه خلق بايد پری پوه شي ـ چي هغه منهج چي شريعت ايښي أو ثابت کړيدی ـ أو مؤمنانو د هغې له کبله هجرت کړيدی ـ أو مجاهدينو د هغې د لپاره جهاد کړيدی ـ أو د هغې د پاره شهيدانو خپل ځانونه قربان کړيدی ـ په کلونو ، کلونو دغه منهج هغه خلق نشي بدلولے ـ کوم خلق چي يريدلي دي ، د أوګد أو زياتو أزمايښتونو څخه ـ کوم چي دی لاره کښي پيښيږی ـ نو له دغه أزمائښت څخه ئې ځان خلاص أو په صفا منهج کښي ئې تحريف وکړه ـ د أمه سرنويشت ئې تخريب أو د شهيدانو ويني ئې وبيولي ـ بلکې خپل ټول کوششونه ئې په کار أچولي دي ـ چي داسي کتابونه ليکي ـ چي ټول پکې باطل أو بي دليله خبری

راجمع شوی وی ـ أو پکی د مخکښینو أو روستینو علماؤ خلاف ، بلکی د دوی د خپلو هغه کتابونو چی په خپل لاس ئی لیکلی وو ـ په داسی زمانه کښې چی د حق سره ئی یو ځائی تعلق وو ـ د هغی خلاف وس پخپله کوی ـ نو تباه أو تاوانیان شول ـ ځکه چی نه خو ئی د دغه لاری عظمت سپځلتیا وپیژندله ـ نو تباه شول ـ أو کله ئی چی د خبلی حقی خبری مخالفت پخپله وکړه تاوانیان شول ـ ځکه چی حق ئی وبیله ـ

أو بعضی بیا ناپو هه دی ـ هغه ځکه چی یا خو دی لاری ته نوی راوتلی دی ـ پوره ئی نه پیژنی ، أو یا دا چی له دین څخه ناخبره دی ـ

چونکی دا لری له پخوا څخه راروانه ده ـ ځکه خو قرآن أو سنت د دی لاری عظمت أو مشقتونه تکلیفونه په واضحه توګه بیان کړی دی ـ ځکه فرمائی ـ

آلٓم ـ أحسب الناس أن یترکوا أن یقولوا آمنا و هم لا یفتنون ، و لقد فتنا الذین من قبلهم فلیعلمن اللّٰه الذین صدقوا و لیعلمن الکذبین ـ

معانی ـ آیا ګمان کوی خلق ، چی دوی به تش د

خـولی په ایمان راوړلو پرېښود لائې شي ـ أو تکلیفونه به پرې نـه تیـرېږي ـ داسي نشي کیدائې ـ ځکه مونږ په هغه کسانو امتـحـان أو أزمـائیښـت کـړی وه ـ کـوم چـي لـه دوی څخـه مخکښي وه ـ نو معلوم کړل الله کوم چي په رښتیا مؤمنان وه ـ أو کومو چي په دروغو ایمان ظاهر کړی وه ـ

بیـا الله تـعالی فرمائي ـ ولنبلونكم حتى نعلم المجاهدين منكم و الصابرين و نبلو أخباركم ـ

معاني ـ مونږ به خامخا په تاسو أزمائیښت کوؤ ـ دی لپـاره چـي خـکاره کړو ـ هغه کسان چي جهاد کوی ـ أو صبر کـوی د تکلیف وخت کښي ـ أو خکاره به کړو ـ مونږ ستاسو خبرونه ـ

أو هـمـدغسي ډیر آیاتونه شته دی ـ بلکښي د وحی د نـازلیـدو ـ د أولـي ورځـي څخه کله چي رسول الله ﷺ له غار څـخـه راغـلو ـ ورقه بن نوفل ورته أوویل :ـ کاش چي زه هغه وخت کښي ځوان أو قوی وے ـ کله چي تا خپل قوم وباسي د کلي څخه ـ پیغمبر ﷺ ورته وفرمائیل ـ آیا ما به قوم له کلي څخه شړي ؟ هغه ورته أوویل ـ هاؤ ، یو پیغمبر هم ستا په شان

دین ندی راوړی ـ مګر قوم ئی ورسره دښمنی کړی ده ـ أو ویستلی ئی دے ـ

همدغسی أبوعبد الله خباب بن أرتؓ فرمائی ـ مونږ رسول اللهﷺ ته شکایت وکړه ـ په داسی حال کښی ، چی هغه تکیه وهلی وه أو یو څادر ئی په ځان أچولی وه ـ د کعبی په پناء کښی ـ مونږ أوویل ـأی د الله پیغمبره زمونږ لپاره د الله تعالی څخه مدد نه غواړی ؟ أو زمونږ لپاره د الله نه دعا نه کوی ؟ هغه أوویل ـ ستاسو څخه مخکینی أمتونو کښی به یو کس وونیولی شو ـ په زمکه کښی به ئی ورله کنده ووۀ ویستله ـ أو هغی کښی به ئی کیښود ـ بیا به ئی آره راوۀ غوښتله ـ د هغه په سر به ئی کیښوده ـ دوه ټوټی به ئی کړلو ـ أو د وسپنی په منګځو به ئی ترینه غوښه له هډوکو څخه جدا کوله ـ خو د الله د دین څخه به نه أوخته ـ قسم په الله چی الله تعالی به دا دین عام کوی ـ تردی چی یو شپون به له صنعاء څخه حضرموت پوری یوازی ځی ـ د هیڅ کس څخه به نه یریږی ـ مګر د الله څخه به یریږی ـ أو د لیوه څخه چی بزی ئی ماتی نکړی ـ خو تاسو تلوار کوی ـ

نو مضبوط کار دا دے ۔ چی سړی له خپل رب څخه په دین د مضبوط پاتی کیدو دعاء وکړی ۔ ځکه ژوندی د فتنو څخه په أمن کیدائی نشی ۔ أو زمونږ دین کښی د هر شی لپاره أصول بنیادونه أو قاعدی دی ۔ دی لپاره چی د پلیت أو پاک فرق وشی ۔

دلته بیا د هغوی د کړنلاری څه تفصیلی بحثونه دی ۔ چی ټول په باطل بناء دی ۔ مونږ د هغی بیانونو څخه اعراض وکړو ۔ ځکه ډیر نور علماء شته چی د هغی رد ئی کړے دے ۔ مګر دومره خامخا وایو ۔ چی د صحیح أو صفاء منهج کوم چی الهی منهج دی ۔ د هغی سره انسانان باید څنګه تعامل وکړی ۔

دا هغه منهج دی ۔ چی همدا به ثابت أو باقی وی ۔ أو خلق به له هم دی سره أوړی را أوړی ۔ کوم طرفته چی دی منهج أړوی هغه طرفته به أوړی ۔ لکه څه خبری مخکی ذکر شوی دی ۔ خو کله چی هم د حق أو باطل په خپل منځ کی پرزول أو مقابله دوام لری ۔ أو زمونږ یو رګ کی هم وینه وی ۔ مونږ به دا خبری د نصیحت أو تذکیر لپاره کوؤ ۔ هغه چاته

چــی د دی صــفــاء لاری د عــظـمـت أو طبیـعـت أنـدازه نشـی پیـژنـدلی ـ أو هغه چاته چی د الله د دین تابعداری ئی پریښی ده ـ أو ځـان ئـی د أشـخـاصـو په تابعداری ککړ کړی دی ـ أو د أشخاصـو صـفـایـانـی کـوی ـ د هغوی د لپاره صحیح منهج کښی تحریف کوی ـ أو بدلوی ئی ـ

دوی تـه وایـو ـ چـی الـلـه تـعالی أنبیاء په ټولو مخلوق غوره کړی دی ـ ځکه فرمائی ـ

ان اللـه اصطفی آدم و نوحا و آل ابراهیم و آل عمران علی العلمین ـ

مـعـانـی ـ الـله غوره کړی ، آدم ، نوحٗ ، د ابراهیمٗ أولاد أو د عمران أولاد په ټول مخلوق ـ

بیـا فـرمائی ـ و کلًّا فضلنا علی العلمین ـ مـعـانـی ـ ټول پیغمبران په مخلوق غوره دی ـ

أو بیـا الـلــه تـعــالـی دوی د نـورو خلکو لپـاره مقتداء ګرځولی دی ـ فرمائی ـ أولئك الذین هدی الله فبهداهم اقتده ـ

مـعانی ـ دغه کسانو ته الله هدایت کړی دی ـ ته هم د دوی د هدایت پسی روان شه ـ

أو پـه دوی ئـی ایـمـان راوړل فـرض کـړی فرمائی ـ آمن الرسول بما أنزل اليه من ربه و المؤمنون كل آمن بالله و ملائكته و كتبه و رسله لا نفرق بين أحد من رسله ـ

مـعـانـی ـ ایمان راوړی ـ دی پیغمبر أو مؤمنانو په هغه څـه چـی دوی تـه نـازل شویدی ـ ټولو ایمان راوړی دی ، په الله ملائکو ، کتابونو أو پیغمبرانو ـ مونږ فرق نه کوؤ ـ په منځ د یو کس د پیغمبرانو کی ـ

یـعـنـی چـی یـو مـنـو أو بـل نه منو ـ بیا سره له دومره فـضـیـلـتـونـو هـم الـلـه تعالی د قرآن په ډیرو مقاماتو کی ورته مـلامتیـا یـا د خـطـائـی تـصـحـیـح أو یـا توجیح بیان کړی ـ أو صـحـیـح لاره ئـی ورتـه خودلی ده ـ لکه د یونش په شان کښی فرمائی ـ اذ أبق الى الفلك المشحون فساهم فكان من المدحضين ـ

مـعـانـی ـ کله چی وؤتښتیدو ، هغه کشتی ډکی ته ، نو قرعه ئی واچوله ـ نو دا پکښی مغلوبه شو ـ

د داؤد پـه شـان کښـی وائی ـ و لا تتبع الهوى فيضلك عن سبيل الله ان الذين يضلون عن سبيل الله لهم عذاب شديد ـ

مـعـانـی ـ د خـواهـش تابعداری مه کوه ـ چی د الله د

لاری څـخه به دی بی لاری کړی ـ کوم کسان چی د الله د لاری بی لاری شی ـ د هغوی لپاره سخت عذاب دی ـ

ابراهیمؑ ته وائی ـ یا ابراهیم أعرض عن هذا ـ

معانی ـ ابراهیم له دی خبری نه تیر شه ـ

أو خپـل حبیب محمدﷺ ته وائی ـ یا أیها النبی اتق الله

ـ

معانی ـ أے پیغمبره د الله څخه ووډاریږه ـ

أو خپـلـو دوستـانـو صـحـابـه کرامؓ تـه وائی ـ حتی اذا فشلتم و تنازعتم فی الأمر و عصیتم ـ

مـعـانـی ـ تردی چی تاسو ووډاریدلی ، أو کمزوری شوی ،أو ختلاف مو وکړه په کار کښی ، أو نافرمانی مو وکړه ـ

نـو هـر کـلـه چـی د الـلـه تـعـالی د خپلو دوستـانو أو مـعـصـو مـو پیـغمبرانو سره دغه سلوک دی ـ دی لپاره چی د الـلـه تـعـالی منهج له خطاء څخه وژغورلی شی ـ نو زمونږ به څـه حال وی ـ کـلـه چـی پـه خپـله لار کښی ووخوئیږو ـ أو د مـنهـج څـخـه سـرغـړاوی أو تـحـریف پـکښـی وکړو ـ غلطـه مـفـکـوره ولـرو ـ أو کـګـه لاره ووُنیسـو ـ لـه دی کبله باید

وؤپو هیرې ـ د دی مخکښی دلائلو څخه چه دلته قواعد ثوابت موجود دی ـ أو مضبوط دلائل دی ـ چی په انسانانو لاندنی نقاط لازمی کوی ـ

١) ـ د الله تعالی منهج ثابت أو دین ئی مضبوط دی ـ چی تغیر أو تبدیلی نه قبلوی ـ

٢) ـ انسانان خطاء ته پیش کیدائی شی ـ خو دغه خطاء به د منهج څخه نه شمارل کیږی ـ أو نه به پری دین بدلیدائی شی ـ

٣) ـ کله چی انسان خطاء شی ـ نو باید د هغه خطاء په گوته أو هغه خطاکار وبلل شی ـ أو که د سمی کړنلاری څخه کوز شی ـ نو باید وؤپیژندل شی ـ چی دی سمه لار پریښی ده ـ أو د هغه په خطاء أو غلطی سترگی پټی نشی ـ أو هغه حق وؤ نه بلل شی ـ که څومره هم هغه د قدر أو مرتبی والا وی ـ

٤) ـ د خلقو صفائی که هر څوک وی ـ دا به د الهی منهج د تحریفولو أو خرابولو سره نشی برابر ولی ـ

٥) ـ اسلام یو ثابت محور دی ـ چی د خلقو ژوند به د دی په چاپیریال کښی وی ـ أو د أمت مسلمه خیر به هم دی کښی

وی ـ چی د منهج أصول سالم أو روڼ پاتی شی ـ أو خطاکار په خطاء وؤپیژندل شی ـ أو هغه وصف ورله ورکړی شی ـ د کوم چی حقدار وی ـ ځکه په دین کښی خطاء أو تحریف د اسلام ته ډیر خطرناک تمامیږی ـ لدینه چی لوئی شخصیتونه دی په مناسب وصف وؤستایلی شی ـ کله چی خطاء أو منحرف وی ـ نو منهج لوئی أو باقی دی له أشخاصو څخه ـ

٦) ـ د هر مسلمان تاریخ اسلامی نشی شمارلی ـ بلکی هغه تاریخ چی د حقیقی اسلام سره سمون خوری ـ أو مسلمانانو د اسلام په مختلفو عهدونو کښی د شرعی أصولو موافق جوړ کړی وی ـ هغه د اسلام څخه شمارلی شی ـ

٧) ـ باید وؤپیژندلی شی ـ چی خلق به په حق پیژندلی أو تول به ئی کولی شی ـ نه دا چی حق په خلقو وؤپیژنو أو وؤتلو ـ

دا هغه څه دی ـ چی الله تعالی ئی د أمت مسلمه لپاره غواړی ـ خطاء به ورله دا ښکاره کوی ـ نقصان أو کمزوری به ئی لیکی ـ بیا که د خپلو کارونو راوؤ ګرځی ـ أو الله تعالی ته توبه وؤباسی ـ أو خطاء ئی صحیح کړی ـ الله

تعالی ورته معافي کوي . أو که نه نو د دغه نقصان أو کمزوري سزا به ورکوي . أو قسما قسم امتحانونه أو أزمايښتونه به پرې راولي .

## دریم: نوعه خلق

دا هغه ځوانان مجاهدين دي . أو دا هغه غرباء دي . الله دې ورته بدله ورکړي . په الله قسم چې په دوی کې داسې خلق دي . چې ټول انسانيت ته د اخلاص قرباني درسونه ورکوي . خپل نفسونه په ډير کم قيمت د الله د دين أو د هغې د حفاظت لپاره أو د دغه منهج په خاطر پلوري . بغير د څه فلسفي عجب أو ځان ته د غره کيدو څخه . أو کله چې هم څوک کوښښ وکړي . چې مخه ئې وؤنيسي . أو تورونه پرې ولګوي . په هغوی هيڅ راپه نه وهي . غير له دې نه چې د هغوی فتنې ته په ځان ژغورونکې نظر وګوري .

مونږ داسې احساسو چې زمونږ نفسونه د هغوی په وړاندې ډير کم دي . أو هغوی د جهاد ساحې ډکوي . أو هغوی دا حال په ژبه وائي .

لئن عرف التاريخ أوسا وخزرجا ـ فلله أوس قادمون و خزرج

و ان يجوف الغيب تخفي طلائعا ـ مجاهده رغم الزعاع تخرج

معاني ـ كه تاريخ أوس أو خزرج جوړ كړي ـ أو د تاريخ پاڼړو پيژندلي دي ـ نو د الله تعالى لپاره هم داسي خلق روسته راوه وتـل ميـدان تـه ـ چـي د أوسـو أو خزرجو پشان دي ـ أو د غيبو خيتي داسي لښكري پټهي ساتلي دي ـ چه كه خلق هر څو مره چغي أو كوكاري وؤ وهي هغي ميدان ته راوؤځي ـ

نـو دا صـحيـح لاره أو د غرباء مسلک دي ـ أو هم دغه خـلـق چـي كـلـه مـو يـاد شـي ـ نـو د ابن قيمؒ دا بيتونه چي په قصيده نونيه كي ئي وئيلي دي يادیږي مو ـ

لا توحشنك غربة بين الورى ـ فالناس كالأموات في الحسبان

مـعاني ـ وه دي نه ډاروي تالره ـ ځانله والي په مخلوق كښي ـ ځكه خلق پشان د مړو دي كله ئي چي شماري ـ

أو ما علمت بأن أهل السنة ـ الغرباء حق عند كل زمان

معاني ـ تاته پته نشته ـ چي أهل السـنه په هره زمانه كښي ځانله أو يواځي وي ـ

قل لی متی سلم الرسول و صحبه ـ و التابعون لهم علی الاحسان

من جاهل و معاند و منافق ـ و محارب بالبغی و الطغیان

معانی ـ ته ماته ووایه ـ چی آیا سالم پاتی شوی ـ پیغمبرؐ أو د هغوی ملګری صحابه کرامؓ أو تابعین د جاهلانو کینه کښو منافقانو أو جنګیالو ـ چی په ظلم أو تعداء ئی جنګ کوؤ ـ

و تظن أناك وارث لهم و ما ـ ذقت الأذی فی نصرت الرحمن

معانی ـ أو ته دا ګمان کوی ـ چی ته د هغی وارث ئی ـ أو نه دی دی څکلی تکلیفونه د رحمن ذات ـ أو د هغی دین په امداد کښی ـ

نو یا الله چی ته د زړونو أړونکښی راړونکښی ئی ـ زمونږ زړونه ستا په دین مضبوط کړه.

# فهرست

١ ابتدائیه
٢ هغه کسان چی د دعوت سره تعلق لري په
دري قسمه دي۔
٣ نو هر چی أوله ډله ده
٤ دوهم
٥ دریم نوعه خلق




## د امت مسلمه د تربیت مبارکه سلسله (۲)

د فتنو په دریاب کښې ډوبیدونکی شخصیات ـ او د بدکردارو علماؤ رویّه ـ چې د عیسایانو او یهودیانو سره مرسته کوی ـ او د شیطان د منصوبو تکمیل کوی ـ مونږ وغوښته چې د امت مسلمه د تربیت له پاره یوه مبارکه سلسله روانه کړو ـ چې په توره شپه کښې یوه رنړا وګرځی ـ نو دا کتاب ـ (روڼ منهج او صفا کړنلاره د أشخاصو له صفائی څخه مهمه ده) ـ به د منهج الهی یو حفاظت وګرځی ـ او حال دا دے ـ چې فتنو او د وخت طوالت حق دوړه مند کړے دے ـ په دی کتاب کښې مونږ خپلې او د خپلو ملګرو هغه تجربې درج کړی دی ـ چې په مصیبتونو او امتحاناتو کښې مونږ حاصلې کړی دی ـ د الله تعالی نه دعا ده ـ چې حق غالب کړی ـ او باطل برباد کړی ـ او زمونږ غلطۍ معاف کړی ـ او مونږ له د دی نه فائده نصیب کړی ـ او الله تعالی په دی څۀ قادر دے ـ

مؤلف